United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

**امنیت شورا ته د سرمنشي د ځانګړې استازې لنډ معلومات**

**د افغانستان لپاره د سرمنشي د ځانګړې استازې مرستیالې، جورجیت ګانیون لخوا**

**امنیت شوراته لنډ معلومات**

**نیویارک، ۱۰ دسمبر ۲۰۲۵**

[لکه څرنګه چې وړاندې شوې]

آغلې رئیسې،

نن نړۍ د بشري حقونو د ورځې لمانځنه کوي؛ یوه داسې ورځ چې موږ ته د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د تلپاتې ارزښتونو، او د دغې اعلامیې د ټولو لپاره د عزت، برابرۍ او عدالت د ژمنې یاد را تازه کوي.

د افغانستان خلک لا هم له څو اړخیزو کړکېچونو سره مخ دي، او که څه هم د هغوي زغم او حوصله څرګنده ده، خو تر سخت فشار لاندې دي. د دوي وضعیت بیړنۍ پاملرنې او ډېر نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري.

ښځې او نجونې په منظم ډول د عامه ژوند له نږدې ټولو برخو څخه ایستل کېږي. د نجونو پر ثانوي او لوړې زده کړې بندیز اوس څلورم کال ته رسېدلی، کوم چې افغانستان له ښځینه ډاکترانو، متشبثینو، ښوونکو او مشرانو څخه محروموي، چې نن او د راتلونکې لپاره د هېواد لپاره ډېر حیاتي ګڼل کیږي.

د رسنیو ازادي په زیاتېدونکي ډول محدوده کېږي. خبریالان له ګواښ، نیولو او سانسور سره مخ دي، چې د عامه بحث فضا او د خلکو عامه مشارکت کموي، او خلک د خپل راتلونکي په اړه له پرېکړو څخه بې برخې کوي.

افغانان – ښځې او نارینه – د برحاله اداري د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون د نافذولو له درکه، په خپل ورځني ژوند کې له سیستماتیکو سرغړونو سره مخ دي.

د بشري حقونو خرابېدونکی وضعیت یوازینی کړکېچ نه دی چې د افغانستان خلک ورسره مخ دي.

هیواد لا هم له یوه جدي بشري ناورین سره مخ دی او لا ډېرو بشري مرستو ته اړتیا لري.

په ۲۰۲۶ کال کې له ۲۳ میلیونو څخه ډېر افغانان - چې د نفوس له نیمايي څخه ډېر دي - لاهم بشري مرستو ته اړتیا لري. د دوي اړتیاوې حیرانوونکې او مخ پر زیاتېدو دي.

په ورته وخت کې، هره میاشت زرګونه افغانان له ایران او پاکستان څخه بېرته راستنېږي، چې ځینې یې د زور او جبر له امله راستانه شوي دي. د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې له ایران او پاکستان څخه نږدې ۲/۵ میلیونه افغانانو راستنېدل د نفوس شاوخوا

شپږ سلنه زیاتوالی ښيي، چې له دې سره د هېواد موجود ژور اقتصادي، اقلیمي او بشري بحرانونه لا پسې پېچلي کېږي، کوم چې لا وار د مخه هیواد ورسره لاس او ګرېوان دی.

ډېری راستنېدونکي یوازې له لږو توکو سره را رسېږي، او هغه کوربه ټولنو ته روان دي چې د هغوي د هر کلي کولو لپاره لازم امکانات نه لري، او اقتصاد هم دومره پیاوړی نه دی چې هغوي ته د کار زمینه او بنسټیز خدمات برابر کړي.

د نړیوال بانک د راپور له مخې، سره له دې چې سږ کال د ناخالص کورني تولید وده اټکل کېږي چې شاوخوا ۴/۵ سلنې ته ورسېږي، خو د نفوس د زیاتوالي له امله ښايي د هر تن عاید شاوخوا ۴ سلنه راکم شي. دا به پرله‌پسې درېیم کال وي چې د سرانه ناخالص کورني تولید کچه په را ټیټېدو ده.

برحاله چارواکو د اقتصادي ځان بسیاینې هدف ټاکلی، او غواړي د افغانستان له جغرافیوي موقعیت څخه په ګټې اخیستنې د ترانزیټي سوداګرۍ کچه لوړه کړي او همدارنګه د توکو تولید په افغانستان کې زیات کړي. دا موضوع هغوي له لوري په تازه خپره شوې د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ کې تشریح شوې ده. خصوصي سکتور هم له هغو لږو برخو څخه دی چې ښځې پکې تر یوې کچې د کار کولو ازادي لري. خو د ځان بسیا کېدو ټولیز پروګرام د نورو داسې تګلارو له امله زیانمنېږي چې سیاسي خطرونه رامنځته کوي او د پانګونې مخه نیسي. ایدیولوژیکي محدودیتونه نه یوازې د ښځو، بلکې د سړو لپاره هم اقتصادي فعالیتونه ټکني کوي.

ډېرې هغه ښځې او نجونې چې افغانستان ته بېرته راستانېږي داسې مهارتونه او وړتیاوې لري چې کولای شي اقتصاد ته وده ورکړي. خو دوی ته به اجازه ورنه‌کړل شي.

برحاله چارواکي لا هم د ملګرو ملتونو داخلي ښځینه کارکوونکې دې ته نه پرېږدي چې د هېواد په کچه د ملګرو ملتونو دفترونو ته لاسرسی ولري. دا کار د دوي له بشري حقونو او د ملګرو ملتونو له منشور څخه سرغړونه ګڼل کیږي، او د هغه ماموریت د ترسره کولو په وړاندې خنډ جوړوي چې شورا مونږ ته راکړی. موږ دغه د نه منلو وضعیت په پرله‌پسې توګه له برحاله چارواکو سره مطرح کړی دی. موږ ستاسو لا ډېر ملاتړ ته اړتیا لرو څو یقیني کړو چې دغه وضعیت په عادي او منل شوی حالت ته وانه اوړي.

آغلې رئیسې،

پرله پسې وچکالي او د ځمکې فرسایش، چې د یوه کمزوری اقتصاد او د نفوسو له فشارونو سره تشدید شوي، په هېواد کې د کرنې تولید ته سخت زیان رسوي په کوم پورې چې ډیری خلکو معیشتونه تړلي دي.

د برحاله چارواکو له خوا د کوکنارو  پر کرنې بندیز، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې هرکلی شوی، اوس د دریو پرله‌پسې کلونو لپاره پلي شوی.

لکه څنګه چې یې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو اداره (UNODC) په وروستۍ راپور کې یادونه کړې، د کلیوالو عایدات ۴۸ سله را ټیټ شوی، په داسې حال کې چې بزګران هڅه کوي له کوکنارو څخه قانوني ارزښتمنو کښتونو ته انتقال وکړي.

د دوحې د بهير د يوې برخې په توګه، د ملګرو ملتونو ادارو، د برحاله چارواکو، مرستندويانو، سيمه‌ييزو هېوادونو او افغان کارپوهانو د مخدره توکو پر ضد د کاري ډلې په چوکاټ کې په ګډه د بديلو معيشتونو د پياوړتيا لپاره پر يو عمل پلان باندې کار کړی. د دغه عمل پلان د پلي کولو لپاره لا ډېر مالي ملاتړ او تخنيکي مرستو ته اړتيا شته.

د نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزه د نړيوالې ټولنې لپاره يو له خطر پرته مسله ده. دغې مسلې ته له رسيدګي هر يو ګټه اخيستلای شي؛ او هر څوک د نشه‌يي توکو ضد د هڅو له نه‌ملاتړه زيان ويني.

آغلې رئيسې،

د افغانستان امنيتي وضعيت په ښکاره ارام دی. ميليونونو افغانانو د نسبي ثبات او د جګړې اړوند تاوتريخوالي د نشتون له داسې يوې دورې څخه خوند اخلي چې په يوه نسل کې يې ساری نه دی ليدل شوی.

خو سره له دې، د تحريک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) د حضور او فعاليتونو په اړه د افغانستان او پاکستان تر منځ ترينګلتيا په زياتېدو ده، چې له امله يې د پولې دواړو غاړو ته د ډزو مرګوني تبادلې او هوايي بريدونه د ملکي وګړو د تلفاتو لامل ګرځې.

دغه ترينګلتياوو په تېرو دوو مياشتو کې د افغانستان او پاکستان تر منځ د مهمو سرحدي لارو د تړل کېدو لامل شوي، چې د افغانستان، پاکستان او د پولې د دواړو غاړو د خلکو لپاره يې منفي اقتصادي پايلې لرلې.

موږ د پاکستان وروستۍ پرېکړه هرکلی کوو چې د افغانانو لپاره بشري مرستې د پولې له بلې غاړې ته د لېږدولو اجازه ورکړي.

همداراز، موږ د سيمې د هېوادونو هغه هڅې هم ستايو چې د خبرو اترو له لارې د حل‌لار موندلو لپاره روانې دي. موږ له ټولو اړخونو غواړو چې اساسي ستونزې مطرح او حل کړي او دواړه لوري د موجود اوربند درناوی وکړي.

د افغانستان برحاله چارواکي لا هم هغه فرصتونه له لاسه ورکوي او يا يې ردوي چې د نړيوالې ټولنې سره په څو اړخيز تعامل کې د ګډون لپاره برابرېږي. دا کار د دې خطر زياتوي په ځانګړي ډول د هغو مرستندويو هېوادونو لپاره کوم چې د افغانستان له لوري د هغوي د اندېښنو د جدي نه نيول کېدو له امله ورځ تر بلې ناهيلي کيږي، چې له تعامله لاس واخلي.

په سپتمبر کې دې شورا ته د يوناما په لنډ راپور کې مو دا موضوع راپورته کړه چې ايا په برحاله چارواکو کې دومره عملي او واقعي ليدلوری شته چې د هېواد له ګڼو روانو کړکيچونو سره مقابله وکړي. لږ وخت وروسته، د طالبانو مشر د ټولو مخابراتي خدماتو، په شمول د ګرځنده تليفونونو شبکې او انټرنېټ، د بندولو امر وکړ.

دغه پرېکړه په افغانستان کې د خلکو لپاره پراخې – او په ځينو مواردو کې د ژوند ګواښوونکې – پايلې لرلې. له دې جملې څخه لاندې يادولای شو: د روغتيا او بيړنيو خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي ځنډېدل يا بشپړ نه لاسرسی؛ د خلکو ورځنۍ او کورنۍ ژوند ګډوډېدل؛ پر ښځو او نجونو د وار دمخه موجودو محدوديتونو پسې نور زياتوالی؛ او د سوداګرۍ، بانکدارۍ، بشري مرستو او هوايي پروازونو جدي ګډوډېدل. په کابل کې مېشته ديپلوماتيکه ټولنه ناڅاپه له خپلو پلازمېنو څخه پرې او منزوي شوه. دا ناڅاپه او بې له خبره پرېکړه دومره ګډوډوونکې وه چې بالاخره د برحاله چارواکو له خوا د نسبتاً پراګماتيک دريځ لرونکې ډلې په هڅو بېرته واخيستل شوه.

دغه پېښه موږ ته د افغانستان د عمومي وضعیت یو روښانه انځور وړاندې کوي. له یوې خوا، د برحاله چارواکو په منځ کې داسې ډله شته چې غواړي افغانستان له نړۍ څخه بېل او منزوي کړي. له بلې خوا، داسې ډله هم شته چې پوهېږي افغانستان او افغانان له نړۍ سره تړلي دي، او دا چې هېواد د دغو اړیکو له پیاوړتیا او پراختیا پرته بقا نه شي موندلای او باید رامنځته شي.

زموږ ګډ هدف په ۲۰۲۳م کال کې د خپلواکې ارزونې په راپور او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (د ۲۰۲۳ کال) په ۲۷۲۱ پرېکړه لیک کې په څرګنده توګه بیان شوی: یو داسې افغانستان چې له خپل ځان او له خپلو ګاونډیانو سره په سوله کې وي، بېرته په بشپړه توګه له نړیوالې ټولنې سره یوځای شوی وي، او خپلو نړیوالو ژمنو ته غاړه ایږدي. زه ټینګار کوم چې هدف دا نه دی چې افغانستان د همدغو اوسنیو برحاله چارواکو تر سیوري لاندې بېرته له نړۍ سره یوځای شي، بلکې هدف هغه مهال بیا یوځای کېدل دي، کله چې دوي خپلې نړیوالې ژمنې پوره کړي.

ملګري ملتونه لا هم ژمن دي چې پر اصولو ولاړ او پراګماتیک تعامل ته دوام ورکړي؛ داسې تعامل چې د نړیوالو ژمنو، ټول‌شموله حکومتولۍ او د ترهګرۍ ضد ژمنو درناوی پکې وشي.

ملګرو ملتونو د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره د دوحې د بهیر په چوکاټ کې یو سیاسي لارنقشه وړاندیز کړې ده. دغه لارنقشه هڅه کوي چې د هغو سترو مسایلو په اړخونو کې پرمختګ پیل کړي چې د خپلواکې ارزونې په راپور کې یې یادونه شوې او کوم چې افغانستان له نړیوالې ټولنې سره د بېرته یو ځای کېدو مخه نیولې ده.

موږ مخکې پرتې ننګونې په کمه نه نیسو. موږ لا له مخکې څو اړخیز بهیر کې ګډون ته د برحاله چارواکو زړه نا زړه والی او نه لېوالتیا ملاحظه کړې. موږ باید په نړیواله ټولنه کې د بېلابېلو دریځونو شتون هم ومنو چې د نړیوال نفوذ او اغېز د کموالي لامل کیږي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د مۍ په میاشت په دوحه کې د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو د لومړۍ ناستې پر مهال د ملګرو ملتونو سرمنشي وویل، موږ تمه نه لرو چې د ټولو خواوو ګټې او غوښتنې به یو بل ته ورته وي، خو مونږ ته په کار دی چې لږ تر لږه پر ځینو ګډو بنسټیزو دریځونو ټینګ پاتې شو. پر دغو ټولو موضوعاتو او لیوالتیاوو کې، د نړیوالې ټولنې او د برحاله چارواکو تر منځ – او همدارنګه د غړو هېوادونو په خپل منځ کې – واټنونه په اسانه د له منځه وړلو وړ نه دي.

له ټولو ښکېلو اړخونو سره زموږ د ورځنۍ ډیپلوماسۍ بنسټیزه موضوع د یووالي پیاوړتیا او د دغو خنډونو لرې کول دي. که څه هم دغې چارې ستونزمنې دي، خو موږ په ټولیز ډول باید خپل اصلي هدف هېڅکله له سترګو ونه غورځوو.

د دغو جدي ستونزو او جدي کړکېچونو سره سره، لاهم دا فرصت شته چې د اوسني نسبي ثبات له فضا څخه په ګټې اخیستنې د دغو کړکېچونو د ریښه‌اي لاملونو د حلولو لپاره اقدام وکړو. د شورا په ملاتړ، موږ کولای شو د تړاو او تعامل داسې پُلونه جوړ کړو او خپل هغه ګډ لیدلوري ته کار وکړو چې له مخې یې یو ارام او باثباته افغانستان رامنځته شي، کوم چې له نړیوالې ټولنې سره بېرته یو ځای شوی وي او په کوم کې چې د ټولو افغانانو بشري حقونه خوندي وي او درناوی یې کېږي.

منننې مې ومنئ، مېرمن رئیسې او د شورا درنو غړو

پای

Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org